امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی و رسیدگی به حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه





هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲۰ الی ۲۵ اسد ۱۴۰۳

شماره شصت و نهم


## پیښو ته د چمتووالي او رسېدنې ملي ادارې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو موسسو ترمنځ چې په بشردوستانه چارو کې فعالیت کوي د همغږۍ او معرفي کېدو غونډه ترسره شوه

پیښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې، د دې ادارې په انګړ کې پیښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې د سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ، د WFP, IOM, UNHCR, WHO, UNICEF, UNFPA او OCHA موسسو سره د همغږۍ او معرفي کېدو غونډه د دې ادارې د مرکزی رییسانو په شتون کې ترسره کړه...



ادامه در صفحه۲

### پیښو ته دچمتوالی او رسیدنی ملی اداری سرپرست په هرات کی د اورلګیدنی له امله له مسؤلینو اوتجارانوسره ولیدل



محترم الحاج ملانورالدین ترابی دهرات ولایت په ګمرک کی د موټرانو او تجارتی مالونو څخه په داسی حال کی لیدنه وکړل چی د هرات مرکزی اطاق تجارت سرپرست ، دهرات دګمرک ریس او نور ډیر تجاران...

ادامه در صفحه۵

### معاون انسجام امور حوادث در دیدار با مدیر برنامه‌های دفتر IOM: به منظور شفافیت در پروژه‌های مرتبط به مدیریت حوادث باید این اداره در تمام پروژه‌ها دخیل باشد



محترم الحاج ملا عبدالولی ځارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث در دفتر کارش درحالیکه روسای مرکزی اداره حضور داشتند با محترم محمد فهیم صافی مدیر برنامه های دفتر IOM دیدار و روی...

ادامه در صفحه۴

### پیښو ته د چمتووالي او رسیدنې ملی اداری سرپرست په خپل کاری دفتر کی د هیلوټرسټ موسیسی د لوی رئیس سره وکتل



پیښو ته د چمتووالی او رسیدنې ملی اداری سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کی د هیلوټرسټ موسیسی د لوی رئیس ښاغلې جیمس کویر، ساحوی مشر ښاغلې...

ادامه در صفحه۳

# پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې ملي ادارې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو موسسو ترمنځ چې په بشردوستانه چارو کې فعالیت کوي د همغږۍ او معرفي کېدو غونډه ترسره شوه



پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې ملی ادارې، د دې ادارې په انګړ کې پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې د سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ، د WFP, IOM, UNHCR, WHO, UNICEF, UNFPA او OCHA موسسو سره د همغږۍ او معرفي کېدو غونډه د دې ادارې د مرکزی رییسانو په شتون کې ترسره کړه.

محترم ښاغلی ترابی صاحب د یادو موسسو مسؤلینو ته په ښه راغلاست سره وویل، چې زموږ د کار پالیسی داسې ده چې د موسسو په قانونی کارونو کې چې بشردوستانه فعالیتونه ترسره کوی او د افغانستان مظلوم ولس ته بشری مرستې رسوی د هغوی په کارونو کې هیڅ کله خنډ نه جوړوو بلکې د هغوی سره په بشردوستانه فعالیتونو کې همکاری کوو او په دی برخه کې هغوی ته لازیاتې اسانتیاوې برابروو نوموړی زیاته کړه چې، موږ ته پکار ده چې په بشردوستانه چارو کې سیاسی موضوعات را شکېل نه کړو.

ورته مهال، د UNICEF موسسې مسؤل محمد مکی د ترابی صاحب څخه د مننې ترڅنګ ووېل چې، افغانستان د اقلیمی بدلون څخه زیانمن شوی او موږ په دې برخه کې خلکو ته د مرستو رسولو لپاره همکاری ته چمتو یو. همدارنګه د WFP موسسې مسؤل هاراله منهاردت په خپلو خبرو کې ووېل چې، موږ پخوا هم په بشری چارو کې له تاسو سره کار کوی او اوس مهال هم همکاری کوو همدارنګه نوموړی د دې خبرې ستاینه او پرې ټینګار یې وکړ چې بشردوستانه چارې دې د سیاسی موضوعاتو ښکار نشی.

همدارنګه د UNFPA موسسې مسؤلې اغلی ساپانټن چوهدری ووېل چې، موږ له نورو موسسو او ستاسو د ادارې سره په همغږۍ د افغانستان مېندو او ماشومانو ته د مرستو رسولو په برخه کې کار کوو او هڅه کوو چې د لازیاتو مرستو زمینه برابره کړو.

دغه راز د OCHA موسسې مشر ښاغلی جینز اوپرمین، زیانمنو ته د رسېدنې پر څرنګوالی خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې، د وروستیو طبیعی پېښو له امله په ۳۳ ولایتونو کې خلک زیانمن شوی او موږ په یادو ولایتونو کې خلکو ته مرستې رسولې دی او همدارنګه زیانمنو ته د رسېدنې په موخه لا زیاتو بشری مرستو ته اړتیا لرو.

همدارنګه د IOM موسسې مسؤلې اغلې مسکان ایزورا ووېل چې، افغانستان د جغرافیا له مخې د طبیعی پېښو څخه زیانمن شوی او موږ د نورو همکارو موسسو سره په همغږۍ د وقایوی پروژو پلی کولو ترڅنګ د اقلیمی بدلون په برخه کې کار ته چمتو یو. او د UNHCR موسسې مسؤلې اغلی سیلن شومیټ د دې ادارې د همکاریو څخه د مننې ترڅنګ ووېل چې، موږ د پېښو په برخه کې کار کوو او همدارنګه غواړو چې د بشری مرستو په برخه کې خپل کار ته دوام ورکړو. ورته مهال د UNMAS موسسې مسؤلې اغلی ټیریسا بارو ټاوارس یادونه وکړه چې، په تېرو 8 میاشتو کې 295 ماشومان د ماینونو له امله زیانمن شوی او موږ ژمن یو چې د دې ادارې د ماین پاکی چارو د همغږۍ ریاست سره تخنیکی همکاری وکړو.

د یادونې ده چې، د WHO موسسې مسؤل ډاکټر ایډون سینیزا سلواډور د روغتیا په برخه کې د خپلو کارونو په اړه معلومات وړاندې کړل، او زیاته یې کړه چې د عامې روغتیا وزارت او ستاسو د ادارې سره په همغږۍ په ښه توګه د روغتیایی مرستو رسولو په برخه کې کار کولو ته ژمن یو.

په پای کې پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې سرپرست د دې ادارې او د ملګرونو ملتونو موسسو ترمنځ په بېړنیو حالاتو کې د همکاری او همغږۍ پر پیاوړی کولو ټینګار وکړ.

# پیښو ته د چمتووالي او رسیدنې ملی اداری سرپرست په خپل کاری دفتر کی د هیلوېرسټ موسیسی د لوی رئیس سره وکتل



پیښو ته د چمتووالي او رسیدنې ملی اداری سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کی د هیلوېرسټ موسیسی د لوی رئیس ښاغلي جیمس کوپر، ساحوی مشر ښاغلي استیفن هال، په افغانستان کی د هیلوېرسټ موسیسی رئیس ډاکټر فرید، د مین پاکی رئیس ښاغلي قاری نورالدین رستم خیل او د اداري د اطلاعاتو رئیس ښاغلي ملا جانان سایق په افغانستان کی د مین پاکی او پیښو ته په عاجله توګه د رسیدنی په اړه بحث وکړ.

ترابی صاحب دوی ته هر کلی ووايي او وروسته يي وويل چی کله زه دی اداری ته راغلم نو ومی غوښتل چی په کارونو ځان پوه کړم ترڅو د اداری کارونه د ځنډ او خنډ سره مخ نسی دا چی افغانستان د اقلیمی بدلون سره هم مخ دی نو ستاسو همکاری ته ضرورت لرو او کوشش مو دا دی چی ستاسو په شمول د ټولو موسیسو سره په اخلاص سره کار وکړو ترڅو په کارونو کی ځنډ او خنډ رانسی.

وروسته د هیلوېرسټ لوی رئیس وویل چی مونږ ستاسو د میلمه پالنی او همکاری څخه مننه کوو او دا چی مونږ په ټوله افغانستان کی کار کوو او زمونږ اصل کار په افغانستان کی د مین پاکی دی ورسره مونږ د ګرځنده روغتیايي تیمونو، امبولانسونو او د موادو د انتقال لپاره وسایط لرو او په راتلونکی کی دا تصمیم لرو چی لا زیاتی ځمکی د مینونو څخه پاکی کړو ښاغلی دا هم وویل چی دوی په غزنی ولایت کی کومی ځمکی له مینونوڅخه پاکی کړی دی هغه ځمکی د خلکو لخوا په زراعت زرغونی سوی دي.

د ناستی په وروستي برخه کی ترابی صاحب د ښاغلي لوی رئیس څخه په افغانستان کی دمختلف هیوادونو لخوا استفاده سوی مینو په اړه سوال وکړ چی آیا تاسو د دغه مینونو د پاکی ظرفیت لری؟ چی په ځواب کی ښاغلي وو وویل چی دوی د هر نوع د مین پاکی لپاره متخصصین لری چی هر نوع مین په هغه ځای کی ښنډ ولی سی، ورسره دوی په افغانستان کی د مین پاکی ۴۶ کمپونه لروچی د هغوی زیات پرسنل په خپل کارونو کی بوخت دی او پیښو ته د چمتووالي او رسیدنی ملی اداری د مینونو رئیس ښاغلی قاری نورالدین رستم خیل د دوی د تیرو کارونو څخه مننه وکړه او په راتلونکی کی یې د دوی څخه د لاهمکاری هیله وکړه.

د ناستی په پای کی د ښاغلي میلمنو لخوا پیښو ته د چمتووالي او رسیدنې ملی اداری سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی ته له خپله طرفه یو دسپینو زرو څخه جوړ سوی دمین ډالی وړاندی کړه ورسره دواړو جانبینو یو بل ته د همکاری لاس ورکړ.

# معاون انسجام امور حوادث در دیدار با مدیر برنامه‌های دفتر IOM: به منظور شفافیت در پروژه‌های مرتبط به مدیریت حوادث باید این اداره در تمام پروژه‌ها دخیل باشد



محترم الحاج ملا عبدالولی ثارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث در دفتر کارش درحالیکه روسای مرکزی اداره حضور داشتند با محترم محمد فهیم صافی مدیر برنامه های دفتر IOM دیدار و روی چگونگی هماهنگی و همکاری بیشتر دیدار و بحث نمودند.
محترم معاون صاحب در این جلسه ضمن تاکید بر در جریان گذاشتن رهبری این اداره در تمام پروژه‌ها، گفت: نیاز است تا به منظور شفافیت در امور مدیریت حوادث در هماهنگی و همکاری نزدیک فعالیت‌های صورت گیرد.
محترم الحاج ملا عبدالولی ثارنوال (حاجی وارث)، افزود که تمام بخش‌های ما به صورت بیست و چهار ساعته در خدمت شما بوده و از این به بعد شما باید در قسمت تطبیق پروژه‌های وقایوی از زمان طرح و پلان پروژه تا ختم آن این اداره را در جریان قرار بدهید تا ما از شروع، جریان و ختم پروژه ها نظارت به عمل آورد و در عین حال آمار پروژه ها و بودیجه آن نیز با اداره شریک گردد.
وی همچنان گفت که در حالات اضطرار نیز باید موسسه مذکور اداره محلی و مرکزی اداره ملی آمادگی و رسیدگی به حوادث را در جریان قرار بدهد و بعدا به کار خود اقدام نمایید.
در همین حال مدیر برنامه های دفتر IOM بیان داشتند که دفتر مذکور بدون هماهنگی با اداره ملی آمادگی و رسیدگی به حوادث هیچ پروژه مرتبط را نمی‌تواند تطبیق کند و ما در قسمت هماهنگی و همکاری نزدیک با این اداره موافق هستیم.
وی همچنان از معاون انسجام امور حوادث جهت ارایه وضاحت بیشتر در مورد روند کاری و بودجوی دفتر مذکور به جلسه دوم تخنیکی دفتر IOM که در هفته آینده برگزار خواهد شد دعوت به عمل آورد.

## پیښو ته د چمتووالی او رسیدنی ملی اداری سرپرست په هرات کی د اورلگیدنی له امله له مسؤلینو اوتجارانوسره ولیدل



محترم الحاج ملانورالدین ترابی د هرات ولایت په گمرک کی د موټرانو او تجارتی مالونو څخه په داسی حال کی لیدنه وکړل چی د هرات مرکزی اطاق تجارت سرپرست ، دهرات دگمرک ریس او نور ډیر تجاران ورسره مل وه ترابی صاحب په ډیر افسوس سره وویل په کار وه چی د بولدک ترحادثی وروسته حفظی تدابیر نیول سوی وای خو اوس هم په کار ده چی د اسلامی امارت پیښو ته د چمتوالی او رسیدنی ملی اداره او د اتاق تجارت مسولین حفظی تدابیر ونیسی.

تردی وروسته ترابی صاحب د اتاق تجارت په انگړ کی په داسی حال کی چی د هرات محترم والی صاحب ، د هرات محترم دامنیی قومندان ،دهرات دگمرک محترم ریس صاحب او د مرکزی اتاق تجارت مسولین حاضر وه دمتضررینو سره هر اړخیز خبری وکړلی چی مجلس په دعا سره پای ته ورسیدی.

## پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې ملي ادارې سرپرست سروبي ولسوالۍ ته په سفر کې پر ۱۵۸ زیانمنو کورنیو خوراکی مرستې ووېشلې




پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ ته په سفر کې په داسې حال کې چې محترم ملا جانان سایق، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس یې ملتیا کوله، د یادې ولسوالۍ وروستیو سیلاب ځپلو ته خوراکی مرستې ووېشلې.

محترم ښاغلی ترابي صاحب، د مرستو د وېش پر مهال له زیانمنو سره خواخوږي ښرگنده کړه او ویې ویل چې، د مرستو د وېش پروسه شفافه ده او د کابل ولایت پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې ریاست تخنیکی ټیم د دې ولسوالۍ هر کلی ته تللی او زیانمن خلک یې سروې کړی او د سروې له مخې، نن ورځ ۱۵۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې وېشل کېږي. نوموړي وویل چې، موږ په ټولو ولایتونو کې زیانمنو ته په مساوی ډول رسېدنه کوو او په تېرو ورځو کې زموږ د ادارې لخوا د ننگرهار، لغمان، کونړ، بامیان، میدان وردگ، پروان، کاپیسا او پنجشېر ولایتونو د شهیدانو کورنیو او ټپیانو ته مرستې وېشل شوي.

ښاغلی ملا نورالدین ترابي وویل چې، موږ هڅه کوو ترڅو په راتلونکې کې د وقایوي پروژو په پلی کولو سره د پېښو کچه راټیټه کړو؛ خو که چېرې کومه پېښه رامنځته کېږي نو په دوه ساعتونو کې به انشاالله زیانمنو ته بېړنۍ مرستې ورسولې شي.

ورته مهال، د کابل ولایت پېښو ته د چمتووالي او رسېدنې رئیس مولوی محمدسلیم حقانی وویل چې، له دغو مرستو هرې کورنۍ ته، ۱۰۰ کیلو اوړه، یو روغتیایی کېټ، یو کارټن مکی آش، ۶ ډبې شیدې، ۳ ډبې حبوبات، ۳ کیلو مُړې، ۱ ډبې سریلاک، ۱۰ پاکټه د اوبو تصفیه کولو تابلیت او د عامه پوهاوی بروشرونه ووېشل شول.

# له هنډیکپ انټرنیشنل موسسې سره په لویدیځو ولایتونو کې د اغېزمنو لوجستیکی خدماتو له لارې بشردوستانه فعالیتونو ته د لاسرسی تړون لیک لاسلیک شو



پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د هنډیکپ انټرنیشنل موسسې اجراییه رییس محترم یوبان مالا سره، د هیواد په لویدیځو ولایتونو هرات، غور، فراه او بادغیس کې د اغېزمنو لوجستیکی خدماتو له لارې بشردوستانه فعالیتونو ته د لاسرسی ترنامه لاندې تړون لیک لاسلیک کړ.

محترم ترابی صاحب، یاده موسسه لا زیاتو فعالیتونو ته په هڅولو سره وویل چې، موږ هڅه کوو ترڅو د موسسو د کارونو په ترسره کولو او پر وخت سره زیانمنو ته د رسېدنې لپاره د همکاری کولو په برخه کې کار وکړو.

ورته مهال، د هنډیکپ انټرنیشنل موسسې اجراییه رییس وویل چې، موږ اوس مهال په لویدیځ زون کې د ګدامونو خدمات وړاندې کوو او هڅه کوو چې په راتلونکې کې دغه خدمات نورو ولایتونو ته هم وغځوو. همدارنګه زیاته یې کړه چې په پام کې لرو ترڅو یوه بله پروژه هم پلی کړو او هغه پروژه به پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې سره په همغږی پلی کوو.

د یادونې وړ ده چې د دغه تړون لیک پلی کېدل به 5 سوه زره یورو لګښت ولری او یاده موسسه لاندې خدماتو وړاندې کولو ته اړ کړی:

۱- بشردوستانه سازمانونو لپاره د ګدامونو خدماتو وړاندې کول؛

۲- د هرات ولایت ولسوالیو او نږدې نورو ولایتونو ته د بشردوستانه سازمانونو او پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې ته د انتقال په برخه کې د خدماتو وړاندې کول؛

۳- په پروژې کې شکېل د کاریګرو، د پروژې په ټرانسپورټی خدماتو کې شکیل د انتقال د وسایطو موټروانانو او مسؤلانو چې په لوجستیکی برخه کې کار کوی او امارتی ادارې چې د پروژې له خدماتو ګټه پورته کوی د هغوی ظرفیت لوړول؛

په پای کې دواړو لوری د پېښو له امله زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د همکاری زیاتولو او د بشردوستانه پروګرامونو په پلی کولو ټینګار وکړ.

# توزیع پول نقد برای ۸۹ خانواده متضرر در فاریاب



ریاست آمادگی و رسیدگی به حوادث ولایت فاریاب، در همکاری با موسسه ورلد ویژن، برای ۸۹ خانواده که در اثر جاری شدن سیلاب‌های اخیر، در مرکز این ولایت، متضرر شده بودند، برای هر خانواده مبلغ ۷۹۵۰ افغانی پول نقد توزیع کرد.

## پېښبو ته د چمتووالي او رسېدنې ملي ادارې او په افغانستان کې د او آر سی ډی (ګلوبل) موسیسی د پروګرام مشر ښاغلي شفیق الله متین ، د عملیاتو مشر ښاغلي انجینئر ذبیح الله یوسفی او د پروژې مدیر ښاغلی ډاکټر امان الله مخلص سره د هیواد په بیلابیلو ولایتونو کی د غیری خوراکی موادو د دکومک په اړه غونډه ترسره کړه



پېښبو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې په انګړ کې پېښو ته د چمتووالی او رسېدنې ملی ادارې د سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ د او آر سی ډی ګلوبل (ORCDG) موسسی سره د هیواد په ۱۳ ولایتونو کی به لکه کابل، لغمان، ننګرهار، کاپیسا، پروان، پنجشیر، بغلان، کندوز، بدخشان، بامیان، غزنی، هرات او نیمروز د غیر ی خوراکی موادو د کومک په اړه غونډه ترسره کړه.
یاده موسیسه په ګران هیواد افغانستان کی د ۲۰۱۸ کال رایسی په مختلف النوع پروژو کی ښکیل ده چی تر دا مهال یې ۴۴ عملی پروژی ترسره کړی او فعلا یې د ملک سلمان خیریه بنسټ څخه د 13 ولایتونو لپاره د غیر خوراکی موادو د کومک لپاره پروژه پیلوی چی په یاد ولایتونو کی به پیښو ته د چمتو والی او رسیدنې ملی اداری سره د غیری خوراکی موادو په اړه د ۴۳۰۰ کورونو دسروی او توزیع په همغږۍ د سروی او توزیع پروژه ترسره کوی چی دکومک ټول مالی مصرف ۱۲۹۵۰۹۳ ( دولس لکه پنځه نوی زره او درې نوی ) دالره چی تعداد یی ۴۳۰۰ کورونو ته راشن کیږی د هر راشن ترکیب په لاندی ډول دی
هری کورنی ته په راشن کی خیمه، دسترخوان، کمپلان، بخار دیګ، دیګ، چاقو، غابونه، کاسی، چاینکه، غټه قاچوغه، کوچنی قاچوغی، پیالی، جیک، ګیلاسونه، د اوبو ترموز، سطل، پتنوسان، صابونان، جارو، لاسی څراغ او بیګونه ورکول کیږی

## روند برنامه های اگاهی دهی از خطرات آتش سوزی در ولایت بلخ آغاز گردید



ریاست آمادگی و رسیدگی به حوادث ولایت بلخ برنامه اگاهی دهی از خطرات آتش سوزی را برای اقشار مختلف اصناف، چوب فروشان و تیل فروشی ها در شهر مزار شریف برگذار نمود.
این برنامه اگاهی دهی پیرامون " در هنگام آتش سوزی چی باید کرد و چگونه میتوانیم از آتش سوزی ها جلوگیری نماییم"برگذار گردید.
قابل ذکر است که اگاهی دهی از خطرات آتش سوزی یک نیاز مبرم بوده و ریاست آمادگی و رسیدگی به حوادث ولایت بلخ متعهد است تا این روند را در سرتاسر ولایت بلخ برگذار نماید.

## پیښو ته د چمتووالي او رسیدنې ملی اداری سرپرست د میدان وردگ ولایت له ریاست او ګداموڼو څخه لیدنه وکړه



پیښوته د چمتووالی اورسیدنی ملی اداری سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی، د میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ د میدان وردګ ولایت له رئیس اوکارمندانو سره یه په جلا جلا توګه لیدنه وکړه او دهغوی ستونزی او نظرونه یه واوریدل.

محترم ترابی صاحب په یاد ولایت کی موجوده پیښو ته د چمتووالی او رسیدنې ملی اداری ګدامونه وکتل اوپیښو ته دچمتووالی اورسیدنی ملی اداری د میدان وردګ ولایت رئیس او کارمندانو تیه لازمی سپارښتنې وکړی.

## پیښو ته دچمتوالی او رسیدنی ملی اداری سرپرست د هرات ولایت پیښو ته د چمتووالی اورسیدنی ملی اداری له ریاست څخه لیدنه وکړه



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د هرات ولایت پیښو ته د چمتووالی اورسیدنی ملی اداری ریاست څخه لیدنه وکړه له هر کارمند سره یی په جلا جلا توګه لیدنه وکړه ده دوی ضرورتونه ،مشکلات او خدمات یه وارزول، له اداری شعبو او ګداموڼو څخه یی هم لیدنه وکړه ټولو کارمندانو ته یی د رئیس په شمول لازمی سپارښتنی وکړی او د دوی ضرورتونه ئی په نظر کی ونیول.

### اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

**پیام ما:**

- محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید
- اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید
- زنگ خطر را به صدا در بیاورید
- هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید
- وسایل برقی و گازی را خاموش نمایید
- در صورت امکان آتش را خاموش کنید